AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۰۵/۲۶

# د محبت له خونده نه شو خبر

لکه پتنګ په سرو لمبو کې شـــو ورک
د نیمو شــپو ،په تیارو کې شــــو،ورک

ځوک مو ضـمیر له حــــاله، نه شو خبر
لکه نســیم هره ورشــــو کې شو ورک

د زړه له کــــومی ،چــا ونه پــــیژاندو
لکه ورږمه ، په ګــــلابو کې شـــو ورک

د عاجـــــزی لاره ، دنـــیا کړه خــپله
مونږ د خپل ځان په ننداړو کې شو ورک

جهــــان عمـــل کې ، تحـــول راوړی
مونږه په تشــــو خیالو کې شـــو ورک

لاړې فـضــــــا ته، مدنــــیت انګازې
مونږ د وحشت په ځنګلو کې شو ورک

نړی د عــــــلم ، په وزرو الــــوزی
مونږه د جهل ، قافــلو کې شـــو ورک

د محـــــــبت له خونده نه شـــو خبر
هسې د کرکې ،فلســـفو کې شـــو ورک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ